د مورنۍ ژبې نړیوالې ورځې په مناسبت

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د یونسکو نړیوال سازمان د افغان کلتوري ټولنو ګډې جرګې او د افغانستان د فرهنګ او ژبو د ملاتړ او پراختیا ملي بنسټ اعلامیه

د ۱۳۹۴ کال د حوت دویمه (د ۲۰۱۶ کال د فبروري ۲۱)

بسم الله الرحمن الرحیم

ملګري ملتونه هر کال د فبروري ۲۱ د مورنۍ ژبې نړیوالې ورځ لمانځي. څېړنو ثبوت کړې ده چې د مورنۍ ژبې پر بنسټ څو ژبې ښوونه او روزنه د باکیفیته زده کړې اساس دی او له ښوونځي څخه د ماشوم د مورنۍ ژبې اېستل له ښوونځي څخه د ماشوم اېستلو په شان دي.

ژبې پر هویت، پوهاوي، ټولنیزې ودې او انکشاف باندې د ژورو اغېزو له امله د انسانانو او نړۍ لپاره د ستراتېژیک ارزښت لرونکي دي. ژبې په انکشاف، کلتوري رنګارنګۍ، د کلتورونو تر منځ د پوهاوي او همدا راز د باکیفیته پوهنې لپاره حیاتي رول لري. ژبنۍ رنګارنګي د ټولې نړۍ خلکو ته د ګډ ژوند، ودې او ټولنیزې برابرۍ بلنه ورکوي. د مورنۍ ژبې د لمانځلو اهمیت دا هم دی چې ژبنۍ او کلتوري رنګارنګي او څو ژبې زده کړې او پوهنه ترویج کړي، چې بایډ د پوهاوي، زغم او خبرو اترو پر بنسټ وي. څو ژبې زده کړه د باکیفیته پوهنې، په پوهنه کې د ټولو د شمول او د تبعیض په مخنیوي کې زموږ ملګري ده. ژبنۍ رنګارنګي زموږ ګډ تاریخي میراث دی چې له خطره بایډ وساتل شي. څو ژبې پوهنه زموږ ګډه ژوندۍ علمي زېرمه ده چې په ګډه بایډ بایډ وساتو.

موږ له ټولو دولتي او نادولتي ملي او نړیوالو ادارو څخه غواړو چې پدې لار کې ګټور کارونه وکړي او دوام ورکړي، افغان ماشومانو ته ګټور او اړین کتابونه په مورنیو ژبو کې خپاره کړي. همدا راز بریښنایي رسنیو کې د دغه شان کتابونو ځای ډک کړي.

په افغانستان کې د مورنۍ ژبې پر بنسټ د څو ژبې ښوونې سېستم له لارې ټولو افغان زده کوونکو ته د بهترین کیفیت زده کړو د برابرولو په هیله.

ومن الله التوفق

د افغان کلتوري ټولنو ګډه جرګه